## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

**« ای مسلمانانو، خلافت بیا تاسیس کړئ!» دا کمپاین د تونس د کافر اشغال پر وړاندې پیل شوی دی، نو ولې د امت د امنیتي ځواکونو زامن دغه دعوتګر نیسي؟!**

د رجب په لومړۍ نېټه حزب التحریر د اسلامي خلافت د نړېدو په مناسبت کمپاین پیل کړ، په دغه کمپاین کې حزب د «ای مسلمانانو، خلافت بیا تاسیس کړئ!» تر عنوان لاندې پر ټولو مسلمانانو غږ کوي چې خلافت بیا تاسیس کړئ. کله چې د حزب التحریر غړو هر یو لکه: عفیف خلیف او عمر احمد غوښتل چې د سفکس په ښار کې د کمپاین تر سرلیک لاندې بینر ځړول، د پولیسو یو موټر را غللو او امنیتي ځواکونو د دوی د سیاسي فعالیت مخه ونیوله. په زور یې د سکایت ایزیت ښار ګوټې امنیتي حوزې ته بوتلل.

دوی د نیولو پر مهال له عفیف ورور سره بد سلوک وکړ، په داسې حال کې چې ده خپل طبیعي حق او قانوني مکلفیت ترسره کاوه چې د اسلامي قدرت حاکمیت و. د هغو خلکو د نومونو له تحقیق وروسته چې دا اعلانات یې کول د وکیل په حضور کې یو راپور جوړ شو. زموږ دوه وروڼه ازاد شول او عفیف ورور د درملنې لپاره روغتون ته یوړل شو. موږ د حزب التحریر-ولایه تونس غړي، لکه څنګه چې موږ د رسمي سیاسي طبقې او شخصیتونو تړاو له اشغال سره ښکاره کوو او له دوی څخه غواړو چې د امت او دهغه له مسایلو سره په څنګ کې ودریږي. موږ د ځینو سر تېرو رتبو ته حیران یو چې تر اوسه یې هم غوږ نیولی دی او پرته له دې چې خپلې عقیدې ته وګوري او د الله سبحانه و تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم له مومنانو سره یو ځای شي او پر ښو کارونو امر وکړي او له بدیو څخه منع، دوی د نورو اوامر پلي کوي.

سره له دې چې، د سیاستمدارانو پر خیانت دوی ټول پوهېږي او همدا سیاستمداران د هیواد د بدبختۍ اصلي لامل دي. سره له دې چې، د دې سیاستمدارانو د اوامرو په پایله کې دوی بې عزته کیږي. یو له هغې څخه په دا وروستیو لاریونو کې د دوی سپکاوی و. چې د ظالم بن علي فرار یې تر ټولو وروستۍ پېښه وه.

ایا دوی نه پوهیږي چې دا د اشغال اوامر چې د دوی د سیاستمدارانو او ځینو کادرونو له خوا دوی ته رسیږي دوی د دښمن د لاس اله ګرځوي، دوی یې له خلکو څخه جلا کوي او دریځ یې راټیټوي؟ ایا دوی نه پوهیږي چې الله سبحانه وتعالی به د قیامت په ورځ له دوی څخه د هغه څه پوښتنه وکړي چې په دغه موقف کې یې کړي وو؟ د دوی باداران به دوی دروغجن وګڼي.

**[إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُواْ مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُواْ]**

**ژباړه:** *«کله چې هغه سزا ورکړي، په هغه وخت کې به حالت داسې وي چې هماغه مشران او رهبران چې به دنیا کې یې پیروي کیدله، له خپلو پیروانو څخه به بېزاري څرگنده کړي.»* [بقرة: ۱٦٦]

ایا دوی نه پوهیږي چې په دغه دعوت کې کړاو یوازې د حزب التحریر استحکام او قوت ډېروي. د الله سبحانه وتعالی په لار کې نیول او زنداني کیدل د حزب د غړو په شخصیت کې عزم او ډاډ حک کوي. د دوی اخلاص لوړوي د بې عدالتۍ پر وړاندې د دوی مبارزه پیاوړې کوي او د خلکو د راتلونکې د رهبرۍ کولو لپاره د دوی ثبات نور هم ټینگوي؟

«اې مسلمانانو، خلافت بیا تاسیس کړئ» دا د حزب التحریر له لوري ټولو مسلمانانو ته یو رښتینی پیغام دی چې خلافت بیا تاسیس کړئ او خپل ژوند ته د اسلامي نظام په چوکاټ کې ادامه ور کړئ. په دغه دعوت کې د امنیتي او نظامي ځواکونو مقام لومړی دی، ځکه چې دوی زموږ اهل قدرت او د سلاح حاملین دي، نو دوی باید د حق په صف کې وي او د واکمنانو خیانت یې رد کړي د الله سبحانه و تعالی دا قول ولولئ:

**[أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى * عَبْدًا إِذَا صَلَّى * أَرَأَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَى * أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَى]**

**ژباړه:** *«ایا ته نه گورې هغه څوک چې منع کوي* د یوه بنده (منع کوي) کله چې هغه لمونځ کوي* ستا څه گومان دی که (هغه بنده) په سمه لاره وي* یا د پرهېزکارۍ حُکم کوي»* [علق: ۱۲]

نو لکه څرنگه چې ابوجهل ماتې وخوړله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت کامیاب شو، همداسې به د خلافت دعوت کامیاب شي او ټول هغه کسان چې له دې سره دښمني کوي مات شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «...او بیا به د نبوت پر منهج راشده خلافت وي».

**#أقيموا_الخلافة**

**#ReturnTheKhilafah**

**#YenidenHilafet**

**#خلافت_بیا_تاسیس_کړئ**

**د حزب التحریر-ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رجب ۲مه**

**۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ ۱۴مه**

**د صدور ګڼه: ۲۹/ ۱۴۴۲**